# يو مسلمان څه ډول باید ژوند وکړي؟

Ketabton.com

ليکوال: حضرت مولانا محمد عاشق الهی بلند شهری

ژباړن: بسم الله علميار اميرزی

کال: ۱۳۹۷ ل.ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

الحمد لله رب العالمین، والصلاة و السلام علی سید الانبیاء والمرسلین، و علی آله و اصحابه اجمعین و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین؛ وبعد

دا چې نن په ټوله نړۍ کې مسلمانان له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي یوائځینی لامل یې همدا ده چې ډېری مسلمانان یواځې په خوله مسلمانان دي او په هېڅ ډول یې له عمل څخه د اسلامیت څرک نه لېدل کیږي، د همدې لړۍ دوام د ټولنې ځینې خلک د الحاد او سیکولریزم خواته روانوي، مونږ که د اسلام تېر ویاړلي تاریخ ته ځیر شو او په ټولو اړخونو یې فکر وکړو هغه حقیقت به راته په ډاګه شي کوم چې الله عزوجل په سورة النور کې بیان کړی دی: **وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ** (النور ۵۵) ژباړه: ستاسو له هغو خلکو سره چې ایمان یې راوړی او نېک کارونه سرته رسوي الله جل جلاله ژمنه کړې چې د ځمکې واګې په لاس ورکي او په ځمکه به یې حاکمان جوړوي، لکه څنګه یې چې له دوی څخه مخکې خلکو ته د ځمکې واګې په لاس ورکړې وو.

په سورة الملک کې الله عزوجل فرمایي: **هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ** (الملک ۱۵) ژباړه: الله هغه ذات دی چې ستاسو لپاره یې ځمکه آرامه ګرځولې نو د ځمکې پر اوږو باندې ولاړ شئ او د الله رزق و خورئ او پای هغه ته ورګرځېدل دي. په دې مبارک آیت کې یوه عجیبه کنایه ده، کله چې مونږ په خپله ټولنه کې داسې یو څوک وګورو چې په بل کس یې واک وي او یا یې هغه خپل ځان ته تابع ګرځولی وي نو وایو چې ښځې یې پر اوږو سپور شوی، یعنی هېڅ د هغه له اوامرو څخه سرغړونه نشي کولای، دلته هم الله جل جلاله مونږ مسلمانانو ته وایي چې د ځمکې پر اوږو سپاره او ولاړ شئ چې مطلب ترې د ځمکې واګې او اختیار لاس ته راوړل دي، په دې معنی چې مسلمانان باید په ځمکه حکومت او اقتدار ولري ځکه چې دا ځمکه د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او باید د هغه اوامر او احکام پکې عملي شي او د هغه له خوښې سره سم اقتدار او حکومت پکې پلی شي.

لکه څنګه چې په لومړي آيت کې بيان شوي دا وروستنی کار يا مشروط دی، يا د نورو اعمالو په پايله کې الله جل جلاله مسلمانانو ته دا نعمت ورکوي، خو له دې مخکې بايد مسلمانان خپل ايمانونه سم کړي او نېکو اعمالو ته پاملرنه وکړي چې دا شرط دی او د همدې شرط په پايله کې ورته الله جل جلاله له خپلې ژمنې سره سم د ځمکې واک ورکوي، له دې او نورو نصوصو څخه د نېکو اعمالو د کولو او له بدو څخه د ځان ژغورلو اهميت په ډاګه کيږي، په دې تړاو د امت نامتو علماؤ ډېرې ليکنې کړي چې يو له هغو څخه ستر فقيه او محدث حضرت مولانا محمد عاشق الهی بلند شهري دی چې دا دی د هغه يوه مختصره رساله چې په شلو ټکو کې يې هغه نېک اعمال بيان کړي چې بايد هر مسلمان پرې عمل وکړي او له پامه يې و نه غورځوي، دا چې دا رساله ما په اردو او دري ژبو کې ليدلې وه او تر اوسه ما ددې رسالې پښتو بڼه نه وه ليدلې له همدې امله مې و غوښتل چې ددې لړۍ په لومړيو کې دا رساله و ژباړم، او په اړوندو موضوعاتو کې ځينې ليکل شوې نورې رسالې چې په عربي ژبه کې دي هم يې د ژباړې کار روان دی، د لوی خدای جل جلاله څخه مننه او شکر کوونکی يم چې ددې رسالې ژباړه پای ته ورسېده او له هغه څخه د نورو ژباړو د پای ته رسولو توفيق غواړم.

**يادونه:** ۱- دا چې ددې رسالې ليکوال اکثره احاديث له مشکات شريف څخه را اخيستي او بيا يې د کتاب د مخ شمېره هم ليکلې وه، ما ددې لپاره چې هرڅوک و کولای شي په آسانۍ سره دا احاديث پيدا کړي په عين کتاب کې د هغو احاديثو شمېرې وليکلې، دا ځکه چې د احاديثو ډېری کتابونه چې نوي چاپيږي نو د احاديثو لپاره شمېرې ورکوي او هم که په الکترونيکي ډول دا کتابونه چمتو شوي وي احاديث يې شمېرې لري او بل دا چې د رسالې په پای کې د منابعو يا سرچينو نوملړ نشته چې د کتاب مشخصات پکې بيان شوي وي له همدې امله ما داسې څه وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ کوم احادیث چې لیکوال را اخیستي د احادیثو مفهومي ژباړه ده، چې ما هم د هر حدیث متن ته په کتو هم هغه حدیث په مفهومي ډول ژباړلی.

۳ـ هرومرو به په ژباړه کې کمی او نقصان وي نو له تاسو درنو لوستونکو څخه هیله کوم چې له ما شوې تېروتې راته په نخښه کړئ او په لاندې ایمیل آدرس یې راواستوئ.

b_elamyar@yahoo.com

په درنښت

امیرزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو مسلمان باید څه ډول ژوند وکړي؟

**الحمد لله رب العالمین و الصلام و السلام علی سید الانبیاء والمرسلین، و علی آله و صحبه اجمعین، و بعد!**

د اسلام دین له عقائدو، عباداتو، نېکو اعمالو، ښایسته اخلاقو او اوچتو آدابو څخه عبارت دی، کله چې یو څوک اسلام ومني او ووایي چې زه مسلمان یم نو باید په بشپړ ډول اسلام و مني، په سورة بقره کې ارشاد دی: **يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ (البقرة ۲۰۸)** ژباړه: ای مؤمنانو**!** په بشپړ ډول په اسلام کې دننه شئ، او د شیطان په قدمونو مه ځئ، له شک پرته چې هغه ستاسو ښکاره دښمن دی.

نن د خلکو عادت ګرځېدلی چې د مسلمانۍ دعوه کوي خو د اسلام له ارکانو، اعمالو، اخلاقو او عاداتو څخه بې خبره دي او ورڅخه په شا کېږي، دعوه یو ډول کوي او عمل بل ډول، دا د مؤمن شأن نه دی. کله چې مسلمانان شوئ نو پر تاسو لازم ده چې په بشپړ اسلام عمل وکړئ.

په اړینو مسائلو د عامو مسلمانانو د پوهولو په خاطر دا مضمون لیکم، نو په خپل منځ کې یې یو بل ته بیان او د عمل لپاره یې چمتو کړئ.

**لومړی:** اسلامي عقائد زده کړئ، د اهل السنة والجماعة عقائد معلوم کړئ او هغه خپله عقیده و ګرځوئ، له ټولو بې لارو ډلو لکه: شیعه، قادیاني، آغاخاني، بوهري او... څخه لرې اوسئ او له بدعتونو څخه ځان وساتئ.

**دوهم:** پر هر عاقل، بالغ مسلمان او مسلمانې پینځه ګوني (سهار، ماسپښین، مازدیګر، ماښام او ماسختن) لمونځونه فرض دي، دا به په کور، سفر، مرض، تجارت، کار او هر حالت کې اداء کوي، او هېڅ وخت به یې نه قضاء کوي، او د ماسختن له لمانځه وروسته وتر کول واجب دي چې دا هم باید هېڅکله قضاء نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. ښځې دې په کور او سړي په مسجد کې په جمعې (جماعت) سره لمونځ اداء کړي، په جمعې سره د یوه لمونځ ثواب اووه ویشت (۲۷) درجې زیاتیږي.[1]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې تل او په پابندئ سره لمونځ کوي نو د قیامت په ورځ به دا لمونځ د هغه لپاره رڼا، د ایمان دلیل او د ژغورنې لامل وي، او چا چې په پابندئ سره لمونځ و نکړ نو دا لمونځ به نه د هغه لپاره نه رڼایي وي، نه د ایمان دلیل او نه هم د ژغورنې لامل، بلکه دا شخص به په قیامت کې له قارون، فرعون، هامان او مشهور مشرک ابی ابن خلف سره وي.[2]

د وترو په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد دی، فرمایي: د وترو کول اړین دي، څوک چې وتر نه کوي زمونږ له جملې څخه نه دی (دا خبره یې درې ځلې وکړه).[3]

او د مؤکدو سنتو په اړه فرمایي: چا چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته وکړل نو په جنت کې د هغه لپاره یو کور جوړیږي، څلور رکعته د ماسپښین له لمانځه (فرضو) څخه مخکې او دوه رکعته وروسته، دوه رکعته د ماښام له لمانځه وروسته، دوه رکعته د ماسختن له لمانځه وروسته او دوه رکعته د سهار له لمانځه مخکې.[4]

له دې پرته د مازدیګر له لمانځه مخکې څلور رکعته غیر مؤکد سنت دي چې ډېر فضیلت لري، په یوه حدیث شریف کې داسې راغلي دي: خدای دې پر هغه چا رحم وکړي چې د مازدیګر له لمانځه مخکې څلور رکعته لمونځ کوي.[5]

نفل لمونځونه هم له ډېر اهمیت څخه برخمن دي، چې تحیة الوضوء، تحیة المسجد، اشراق، څاښت، تهجد او د ماښام له لمانځه وروسته نفل پکې شامل دي،د نوافلو ذخیره هم باید له ځانه سره ولرو، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې د قیامت په ورځ لومړی د لمانځه په اړه پوښتنه کیږي، که لمونځ سم وو نو (پوښتل شوی شخص) کامیاب او بریالی کیږي، او که خدای مکړه لمونځ یې سم نه وو نه

---

[1] مشکوة المصابیح، ۱۰۵۲ شمېره حدیث.

[2] هماغه مأخذ، ۵۷۸ شمېره حدیث.

[3] هماغه، ۱۲۷۸ شمېره حدیث.

[4] هماغه، ۱۱۵۹ شمېره حدیث.

[5] هماغه، ۱۱۷۰ شمېره حدیث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بريالى کيږي، که په فرضو کې څخه کمی او نقصان وو الله جل جلاله فرمايي: وګوري چې زما له بنده سره څه نفل شته؟ وروسته د نفلو په واسطه د فرضو کمی پوره کيږي، وروسته په همدې ترتيب د زکات حساب کيږي، همدا شان په ترتيب سره د نورو اعمالو حساب کيږي.[6]

**دریېم:** خپل لمونځونه سم او په سمه طريقه يې زده کړئ، او ماشومانو ته هم په همدې سمه طريقه لمونځ ور زده کړئ، د (س، ث، ص، ض، ط، ظ، ق، ک) او ټولو تورو سم ويل او اداء کول اړين دي، ډېر خلک په خپل ټول ژوند کې طيبه مبارکه کلمه هم سمه نه زده کوي او لمونځ هم غلط اداء کوي، په دې کې د آخرت ډېر زيات تاوان دی.

**څلورم:** ماشومانو ته لمونځ ښودلو په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بچي مو چې اووه کلن شول په لمانځه امر ورته وکړئ، او چې کله لس کلن شول او لمونځ يې نه کاوه ويې وهئ، او په لس کلنی کې يې له يو بل څخه بېل کړئ (په يوه بستره کې له يو بل سره استراحت ونکړي).[7]

**پينځم:** د جمعې په لمانځه باندې ځانګړی اهتمام وکړئ، الله جل جلاله فرمايي: **فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ** (الجمعة ۱۰) ژباړه: ای مؤمنانو! کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره آذان وشي، نو د الله د ياد په پار سعی وکړئ، پېر او پلور پرېږدئ، دا کار ستاسو لپاره غوره دی که پوه شئ.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: چا چې له کوم عذر او مجبوريت پرته د جمعې لمونځ پرېښود نو دا شخص په هغه کتاب د منافق په نوم ليکل کيږي چې نه له منځه ځي او نه هم بدلون مومي.[8]

[6] هماغه، ۱۱۷.
[7] هماغه، ۵۷۲ شمېره حديث.
[8] هماغه، ۱۳۷۹ شمېره حديث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د سفر، مرض یا بل شرعي عذر له امله د جمعې لمونځ پاتې شي باید پر ځای یې د ماسپښین لمونځ وشي، او که له عذر پرته یې هم د جمعې لمونځ پرېښود باید پر ځای یې د ماسپښین لمونځ وشي.

**شېږم:** له بلوغ وروسته که چا هر څومره فرض او وتر لمونځونه قضاء کړي وي، هغه دې ټول وشمېري، کله یې چې فکر وکړ چې له دې به زیات لمونځونه ترې نه وي قضاء شوي، نو ژر دې هغه شمېرل شوي لمونځونه وکړي (قضایي دې را وګرځوي)، په یوه ورځ کې ټول شل رکعته کیږي، څلور د ماسپښین، څلور د مازدیګر، درې د ماښام، څلور د ماسختن، درې وتر واجب او دوه رکعته هم د سهار، چې دا ټول شل رکعته په شل دقیقو کې تر سره کیږي.

کله چې له پینځو لمونځونو ډېر قضاء شوي وي نو ترتیب پکې لازم نه دی او نه هم د قضایي لمونځونو د پاره کوم وخت ټاکل شوی، خو د لمر راختلو او زوال په وخت کې باید و نه شي، کله چې لمر یوه نیزه را وخېژي نو د هر ډول لمونځ کول جائز دي، او د مازدیګر له لمانځه وروسته کله چې په د لمر په رڼا کې ژېړوالی راشي هېڅ قضایي یا نفل لمونځ نه کیږي، خو له ژېړوالي څخه مخکې قضایي لمونځ کیږي، د مازدیګر له لمانځه وروسته د لمر د غورځېدو پورې نفل کول جواز نه لري.

**مسئله:** که له مقیم څخه د ماسپښین، مازدیګر او ماسختن لمونځونه قضاء شي نو قضایي به یې پوره څلور رکعته را ګرځوي، که څه هم اوس (د قضایي را ګرځولو پر وخت) د سفر په حالت کې وي، او که دا لمونځونه د سفر په حالت کې قضاء شي او په حضر یعنی د اقامت په ځای کې یې قضایي را ګرځوي باید قضایي یې دوه رکعته را وګرځوي (په دې شرط چې ۴۸ میله سفر یې کړی وي). همدا راز قضاء شوي لمونځونه باید ژر وکړای شي یا له هر لمانځه سره د یوه لمونځ قضایي وکړي، او یا روزانه شل رکعته د یوې ورځې قضایي را وګرځوي چې دا ډېر آسان کار دی. ضروری نده چې ټول لمونځونه یو ډول قضاء شوي وي، ډېر خلک په کاروباري معاملاتو کې د مازدیګر لمونځ پرېږدي او ډېر بیا د خوب په نشه کې د سهار او ماسختن لمونځونه نه کوي. لنډه دا چې هر لمونځ چې هر څومره قضاء شوی وي په هماغه اندازه یې قضایي را وګرځول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووم:** شتمن او مالداره خلک باید په پابندۍ سره د اسلامي کال په تېرېدو زکات ورکړي، البته انګریزي میاشتو ته اعتبار نشته، یعنی د زکات اداء کول د اسلامي میاشتو یا د لېږدیز سپوږمیز (هجري قمري) میاشتو په حساب صورت مومي. د زکات د فرضیت لپاره ډېر شتمن کېدل شرط نه دی، د ۵۹۵ ګرامو سپینو زرو یا د هغو د قیمت په اندازه د تجارتي مال په مالک کېدلو زکات واجبیږي، او دا ډېر زیات مال نه دی، د سپوږمۍ په حساب چې دولس میاشتې تېرې شي له ټول مال څخه د څلوېښتمې برخې ورکول فرض دي، دا برخه یعنی زکات باید د هغه مستحقینو ته ورکړل شي، د مستحقینو پلټل او معلومات اړین دي څو زکات اصلي حقدار او مستحق ته ورسیږي.

د هر چا په ملکیت کې چې ۵۹۵ ګرامه سپین زر یا د هغو معادل تجارتي توکي یا اضافي سامان وي دا شخص د زکات مستحق نه ګرځي چې له ډېرو سوالګرو او ګدايي ګرو سره هم دومره مال وي او ددې با وجود بیا هم سوال او ګدايي کوي، دا ډول خلکو ته زکات مه ورکوئ. پر زکات سربېره د مال اړوند نور واجبات هم شته؛ لکه د صدقه فطر (سرسايې) ورکول، په لوی اختر کې قرباني کول، له شرعي قواعدو سره سم په ښځه او اولاد نفقه او مصرف کول، له حانث کېدو وروسته د قسم کفاره ورکول او... ددې ټولو اداء کول هم اړین دي.

د زکات، مالي حقوقو او واجباتو سربېره نفلي صدقه هم باید ورکړئ او په نېکو کارونو کې هم لګښت وکړئ، د قیامت په ورځ فرائض، واجبات او نفل ټول د درجو د اوچتوالي لامل ګرځي.

د زکات په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې د خپل مال زکات نه ورکوي د قیامت په ورځ الله جل جلاله د هغه له مال څخه زهر لرونکی مار جوړوي، او د هغه په غاړه کې يې اچوي، چې دا کلمات به وايي: زه ستا مال یم، زه ستا خزانه یم.[9]

او د صدقو په اړه فرمايي: د دوزخ له اور څخه ځان وژغورئ که څه هم په نیمه خرما باندې وي، او که دا هم نه وي نو ښه خبره وکړئ.[10] هر نېک کار چې د

---

[9] مشکوة المصابیح، ۱۷۷۴ شمېره حدیث.

[10] هماغه، ۵۸۵۷ شمېره حدیث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای لپاره شوی وي د قیامت په ورځ په کار راځي چې د ډېرې وړې نېکۍ لپاره هم اړتیا پیښیږي.

**اتم:** د رمضان د میاشتې روژې په پابندۍ سره ونیسئ او په هغو اولادونو چې د روژې توان لري هم روژه ونیسئ، نفلي روژې هم له ډېر اهمیت څخه برخمنې دي، د اسلامي میاشتو د ۱۳، ۱۴ او ۱۵ ورځو، د دوشنبې او پنجشنبې د ورځو، د شوال د میاشتې د شپږو روژو، د ذی الحجې د میاشتې نهمه **(عرفه)** او د محرم د میاشتې په لسمه روژه ډېر زیات فضیلت لري.

**نهم:** په چا چې حج فرض وي په اداء کولو کې دې یې عجله وکړي، په حدیث شریف کې راځي څوک چې عذر یا ظالم پاچا او یا هم سخته ناروغي له حج کولو څخه منع نه کړي او بیا هم حج ونکړي نو خوښه یې چې یهودي مړ کیږي او که نصراني.[11] په ډېرو خلکو حج فرض شي خو د دنیوي معاملاتو په سبب یې ځنډوي چې په پای کې له حج کولو پرته مړ شي، یعنی له دنیا څخه د حج د فریضې له اداء کولو پرته ولاړ شي، چې دا ډېر د تأسف ځای دی.

**لسم:** د قرآن کریم تلاوت وکړئ، هره ورځ یوه یا دوه سپارې تلاوت وکړئ، د قرآن کریم د هر توري په ویلو یوه نیکي ورکول کیږي چې له لسو نېکیو سره برابره وي. خپل اولاد ته هم قرآن کریم ورزده کړئ، سهار د یس شریف سورت ووایئ، د یس شریف په ویلو سره د قرآن کریم د لسو ختمونو ثواب ورکول کیږي (چا چې یس شریف تلاوت کړ داسې ده لکه چې لس ځله یې قرآن کریم ختم کړی وي)، قرآن کریم سم زده کړئ او الفاظ یې سم اداء کړئ.

**یوولسم:** د الله جل جلاله ذکر ډېر کوئ، الله جل جلاله فرمایي: **يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا (الأحزاب ۴۱)** ژباړه: ای مؤمنانو**!** الله جل جلاله ډېر یاد کړئ. او په حدیث شریف کې راغلي چې تل باید ستا ژبه د خدای جل جلاله په یاد لمده وي، او نبی علیه السلام فرمایي: که یو ځل **(سبحان الله والحمد لله، و لا اله الا الله والله**

[11] هماغه، ۲۵۳۵ شمېره حدیث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اکبر)** ووایم نو ما ته د دنیا له ټولو هغو څیزونو څخه چې لمر پرې لرېدلی، غوره دی.[12]

مسلمانانو**!** خپل ژوند او وخت مه بربادوئ، تل د الله جل جلاله ذکر وکړئ، هېڅ وخت مو باید له ذکر او درود څخه خالي نه وي، په ناسته، ولاړه، تګ راتګ او هر حالت کې د الله جل جلاله ذکر وکړئ، مسنونې دعا ګانې زده کړئ او پر خپل وخت یې ووایئ، له هر فرض لمانځه وروسته ۳۳ ځله **(سبحان الله)**، ۳۳ ځله **(الحمد لله)** او ۳۴ ځله **(الله اکبر)** ووایئ او د ویده کېدو پر مهال یې هم ووایئ.

**دولسم:** ټول مسلمانان باید په خپل منځ کې له یو بل سره مینه، الفت، خواخوږي او مرسته وکړي، او په خدمت کې ژوند وکړي، په ماشومانو باید شفقت وکړي او د مشرانو اکرام او عزت وکړي، له حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو مؤمنان په خپل منځ کې په رحم، محبت او نرمښت کې لکه د یو بدن په څېر وینئ، کله چې له یوه غړي څخه په تکلیف شي نو ټول جسد ورسره په تبه او نا ارامۍ کې وي.[13] په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: مؤمنان دیوه نفر په څېر دي که سر یې په درد وي نو ټول جسم ورسره په تکلیف وي.[14] حضرت ابوموسی اشعري رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې یو مؤمن د بل مؤمن لپاره د یو تعمیر په څېر دي چې ځینې یې ځینې نور کلک او مضبوطوي، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرستې او تعاون د ښېلګې په ډول د دواړو لاسونو ګوتې له یوبل سره وروستې.[15]

له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي څوک چې دیو مسلمان ستونزه حل کړي او هغه خوشحاله کړي نو په حقیقت کې یې زه خوشحال کړی یم او څوک چې ما خوشحال کړي نو الله جل

[12] مشکوة المصابیح، ۲۲۹۵ شمېره حدیث.
[13] متفق علیه، صحیح البخاري ۶۰۱۱ شمېره حدیث.
[14] صحیح مسلم، ۲۵۸۶ شمېره حدیث.
[15] متفق علیه، صحیح البخاري ۶۰۲۶ شمېره حدیث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلاله یې خوشحال کړی او څوک چې خدای جل جلاله خوشحال کړي نو هغه جنت ته دننه کوي.[16]

په یو حدیث کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې له یو ستونزمن شخص سره مرسته وکړي الله جل جلاله هغه ته ۷۳ رحمتونه ثبت او لیکي، چې په یوه سره یې د هغه ټولې چارې سمیږي او پاتې ۷۲ یې د قیامت په ورځ د درجې د لوړولو لپاره دي.

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: مسلمان د مسلمان ورور دی، پر هغه دې ظلم نه کوي او هغه به نا امیده هم نه پرېږدي (په ستونزه کې به یې مرسته کوي) او نه به هغه ته په سپکه سترګه ګوري، او درې ځله نبی علیه السلام په داسې حال کې چې خپلې مبارکې سینې ته یې اشاره کوله و فرمایل چې تقوا دلته ده، بیا یې وفرمایل: د یو مسلمان د بدوالي لپاره همدومره بسنه کوي چې چې خپل مسلمان ورور ته په سپکه وګوري، د یومسلمان هر څه پر بل مسلمان حرام دي، د هغه مال (ترې وایې نخلي، خیانت پکې ونکړي او نه یې هم په کوم چل او فرېب ترې ترلاسه کړي)، د هغه وینه (چې په ناحقه هغه و نه وژني) او د هغه پت او عزت (چې هغه ذلیل او رسوا نکړي).[17]

له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی علیه السلام و فرمایل: څوک چې د یو مسلمان په قتل کې په نیمه خبره هم مرسته او کومک و کړي د قیامت په ورځ به په داسې حال کې له الله جل جلاله سره مخ کیږي چې د سترګو په منځ کې به یې آيسٌ من رَحْمَة الله (د خدای له رحمت څخه نا هیلی) لیکل شوي وي.[18] له حضرت ابو سعید الخدری او حضرت ابو هریره رضی الله عنهما څخه روایت دی چې نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل: که د یو مؤمن به قتل کې د آسمانو او ځمکې ټول خلک شریکان شي نو الله جل جلاله به دا ټول په جهنم کې واچوي.[19]

[16] رواه البیهقی فی شعب الایمان، ۷۲۴۷ شمېره حدیث.
[17] صحیح مسلم، ۲۵۶۴ شمېره حدیث.
[18] مشکوة المصابیح، ۳۴۸۴ شمېره حدیث .
[19] مشکوة المصابیح، ۳۴۶۴ شمېره حدیث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له حضرت ابوبکر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: کله چې دوه مسلمانان خپلې تورې واخلي او له یو بل سره مخ شي نو قاتل او مقتول دواړه دوزخیان دي، چا و پوښتل چې د قاتل په دوزخي والي خو پوه شو خو دا مقتول ولې دوزخ ته ځي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: ددې لپاره چې ده هم د قاتل د وژلو نیت کړی وو.[20]

مطلب دا دی چې دواړه د قتل په نیت راغلي وو، د خپل نیت له امله دواړه دوزخ ته ولاړل، دا بېله خبر ده چې یوه ته د قتل موقع په لاس ورغله چې بل یې وواژه او دوم (مقتول) ته موقع برابره نه شوه او ووژل شو، وژل شوی د خپل نیت له امله دوزخ ته ولاړ ځکه چې هغه هم د ناپوهۍ او تعصبي جذبو سره د قتل په نیت راغلی وو او په جنګ کې یې موخه د الله جل جلاله رضاء نه وه.

**دیارلسم:** ټول نارینه او ښځینه باید هغه جامې واغوندي چې د اسلام دین ورته ښودلي دي، چې ستر او حیا پکې خوندي وي، نارینه باید ښنګرې په جامو کې پټ نکړي، که پطلون اغوندي نو له ښنګرو باید ښکته نه وي، ښځې باید ټیکری په سر کړي او له حجاب پرته دې نا محرمو خلکو ته ځان نه ښکاره کوي (له پردې او حجاب پرته دې بهر نه وځي)، د امکان تر حده دې په کور کې اوسي او که له کوره بهر وځي نو باید بې حجابه و نه اوسي او نه هم په فېشني حجاب کې بهر ووځي (ځکه چې فېشني حجاب د خلکو توجه وراړوي).

**څوارلسم:** د حقوق العباد یا د بنده د حقوقو د اداء کولو په فکر کې اوسئ، باید ښه فکر وکړئ چې د چا حق را باندې شته دی که نه؟ که د چا مالي حق یې په غاړه وي لکه قرض یې اخیستی وي، یا یې د هغه په مال کې خیانت کړی وي او یا یې دمالک له اجازې پرته اخیستی وي نو که یې مالک او څښتن معلوم وي او هېر کړی یې نه وي خپله دې ورشي او د هغه حق دې اداء کړي. که حق غیر مالي وو لکه د هغه غیبت یې کړی یا اورېدلی وي او یا یې پر هغه ناحق تور (بهتان) پورې کړی وي او شخص معلوم وي باید بخښنه ترې وغواړي، کنه نو هغه ته دې دومره استغفار او دعا وغواړي تر څو چې زړه یې اقرار وکړي چې حق به یې اداء شوی وي، د حقوق العباد معامله ډېره ستونزمنه ده په آخرت کې به هر

[20] متفق علیه، صحیح البخاری ۶۸۷۵ شمېره حدیث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخص خپل حقدار ته د حق په بدل کې خپله نېکي ورکوي او که نېکۍ يې پوره نشوې نو د هغوی گناهونه په خپله غاړه اخلي او په دې ترتیب جهنم ته ځي.[21] اړتیا ده چې په دې تړاو ډېر زیات فکر وشي په ځانگړي ډول هغوی ډېر فکر وکړي چې خپلو میندو، خویندو او لوڼو ته د میراث حق نه ورکوي.[22]

**پینځلسم:** حلال وگټئ او حلال وخورئ، د خپلو مالي سرچینو په اړه له علماؤ څخه پوښتنه وکړئ چې حلالې دي او که نه؟ رشوت مه اخلئ او له سودي معاملو څخه په کلکه ډډه وکړئ.

**شپاړسم:** زړونه مو له شرکي او کفري عقائدو، د ریا کارۍ له جذبو، د ناروا دښمنۍ، حسد، بغض، کینه، تکبر اوغرور؛ دماغ مو له بدو فکرونو؛ لاسونه مو له حرام کسب او کمایي، په تله کې له کمي کولو؛ سترگې مو غلطو ځایونو ته له کتلو؛ شرمگاه یا ځانگړي غړي مو له بدکارۍ؛ غوږونه مو د سندرو، غیبت او هر ډول بدو خبرو له اورېدلو؛ ژبې مو له تهمت او غیبت کولو، له دروغ ویلو، ښکنځلې کولو، دروغ او ناحق قسم خوړلو او بې ځایه خبرو؛ خېټه او نس مو له حرام خوړلو او ټول بدن مو له هر ډول گناه څخه وساتئ، یعنی له ټولو یاد شویو بدو اعمالو څخه ځان و ژغورئ، او یاد شوي غړي مو ددې کارونو له سر ته رسولو څخه وژغورئ.

**اوولسم:** د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پیروي وکړئ، خپل شکل او صورت د هغه په څېر و ټاکئ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ږیره گڼه او سینه یې پر ښایسته شوې وه.

**اتلسم:** په خپلو اولادونو مو قرآن کریم حفظ کړئ، دین ورته وښایئ، او هغوی په حدیث، تفسیر، فقه او فتاوی کې د استادۍ تر حده ورسوئ، د کافرو او فاسقو له ناستې ولاړې او د هغوی د طریقو له اختیارلو څخه خپل اولاد وساتئ، کله چې بالغان شول له سنتو سره سم واده ورته وکړئ چې ساده وي او د ریاکارۍ او دنیا دارۍ په طریقه نه وي او هم پکې قرض داره نه شئ، خپلو زامنو او لوڼو ته مو د دینداره د ژوند ملگري د پیدا کولو هڅه وکړئ.

---

[21] مشکوة المصابیح، ۵۱۲۷ شمېره حدیث.

[22] البته اوسمهال ډېر خلک د خپلو مېرمنو مهر هم سم اداء کوي چې دا موضوع هم باید له پامه و نه غورځول شي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نولسم:** د علماء کرامو مجلسونو ته ولاړ شئ او خپل اولاد مو هم در سره بوزئ، له نېکو او دینداره خلکو سره اړیکې ولرئ او له هغو سره ناسته ولاړه وکړئ، د اهل سنت والجماعت د علماؤ کتابونه مطالعه کړئ چې په زړونو کې مو ددنیا محبت کم او د آخرت محبت کلک او مستحکم شي، که د سنتو تابع او متقي کامل مرشد مو پیدا کړ له هغه سره بیعت وکړئ، بیعت یواځې د نوم لپاره نه وي د خپل شیخ (پیر او مرشد) په ښوونو عمل وکړئ ځکه چې بیعت کول د نفس د اصلاح او د زیات ذکر کولو لپاره وي.

**شلم:** له ټولو ګناهونو او تقصیراتو څخه کلکه او پخه توبه وباسئ، او هر کله چې له تاسو څخه ګناه وشي نو ژر تر ژره توبې ته متوجه شئ، او دا کلمات ډېر زیات وایئ (استغفرالله الذي لا اله الا هو الحی القیوم و أتوب الیه)، د ویده کېدو پر مهال یې هم درې ځله ووایئ، د مسلمان کار او دنده دا ده چې تل د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمانبرداري وکړي، الله جل جلاله دې ډول خلکو ته په قرآن کریم کې بریالي ویلي دي، په سورة النور کې ارشاد دی: وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ (النور ۵۲) ژباړه: چا چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت او تابعداري وکړه، له الله جل جلاله څخه ووېرېده او د هغه له مخالفت څخه یې ځان و ژغوره نو دا بریالي دي.

سبحان ربک رب العزة عما یصفون و سلام علی المرسلین و الحمد لله رب العالمین.

پای ۱۳۹۷/۸/۱۰

کابل، کارته نو درېیم سړک

ستاسو نېکو دعاګانو اړ، ورور مو بسم الله علمیار امیرزی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**